مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۲/۱۱/۰۴

# د تخیـیـل په رڼا کې

## د نیکه او لمسي غوښتنې

### لومړۍ برخه

تخییل له یوه اړخه د تفکر ازاده بڼه ده، چې د وچ عقلانیت او قانونمندۍ پولې ړنګوي او بهر ترې وځي. تفکر په احتیاط پوښتنې کوي او ځوابونه یې هم د هغو قاعدو له مخې پلټي، چې وارله مخه یې ځان ته ټاکلي وي. د تفکر ټول پام دې ته دی، چې پوښتنې سمې وي او ځوابونه یې د قناعت وړ. خو تخییل یوازې پوښتي، دا پوښتنې هر ډول وي او ځواب یې هم په داسې بڼه پلټل کیږي، چې د سموالي یا ناسموالي هېڅ راز پروا ورسره نه وي.

تفکر له تجربو او څېړنیزو میتودونو سره علم پنځوي او تخییل، چې اېستیتیک (ښکلاییز) ذوق او عاطفه ورسره ملګري شي، هنر ترې هستیږي.

د رېنسانس په بریا کې تخییل او هنر له تفکر و پوهې سره غبرګ پرمخ تلل. د رېنسانس یو وزر علم و بل یې هنر . ټول انسانان د تخییل توان لري، بلکې ټول بنیادمان خامخا د ژوند یوه برخه پر تخییل تېروي.

تاسو به وایاست، چې دا مې څه بابولالې راخیستې؟ او دا څه وایم؟

په دې لنډه سریزې پسې درته اصلي خبره کوم:

هر هغه افغان چې زما دغه کرښې لوستلای شي، کله کله دې د بشپړ ازاد تخییل څپو ته ځان وسپاري.

زه - په خواشینۍ - د افغانانو له تفکر او د تفکر پر بنسټ له شعوري تکامل و پرمختګ څخه ناهیلی شوی یم.

راځئ، د خپلې اړتیا او وړتیا دا دویم وزر وازمویو.

مثلاً تخییل وکړو، چې زموږ یوې خواته زموږ نیکونه ولاړ دي او بلخوا مو لمسي.

نیکونه رانه پوښتي، تر موږ مو د خپلې زمانې افغانانو د ژوند ښه کولو لپاره څه وکړل؟

او لمسي رانه پوښتي: موږ ته به څه را پریږدئ؟

تفکر به خامخا معقول ځوابونه پلټي:

«او بابا! خو انګریزانو نه پرېښودو، روسان راغلل، امریکایانو یرغل وکړ، پلانی مشر خاین و، بیستانی کافر او دا بل غل، هغه بل فاسد...»

خو د تخییل ځوابونه داسې نه دي. کېدای شي، تخییل په دې منځ کې نیمه ګوته موږ ته هم ونیسي، ښایي غلي په غوږ کې راته ووایي، چې ولې نو تل پردي دلته راتلل؟

ولې ټول مشران بد ول؟

ولې؟...

که تفکر مو لمسیو ته ځواب ورکړي:



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راڵیرلو مخکې په خیر و لولئ

. تاسو ته داسې يو حاکميت په ميراث پرېږدو، چې ټوله هڅه، هدف او هيله يې؛ حورو ته ستاسو وروستل دي. په زور وي که په رضا، خو خامخا مو د بلې دونيا حورو ته بيايي.

دا ځواب به د تخييل هېڅ خوښ نه شي او لمسي به هم قانع نه کړي.

تخييل بل کمال هم لري، له دوزخه نه ډارېږي، تخييل له تکفير څخه وېره نه لري. تخييل د شيخ و زاهد خبره بيخي نه مني.

تخييل پر همدې دونيا د انسان ښه ژوند د هغه حق ګڼي.

زموږ لويه بدمرغي دا ده، چې د ښکېلاکي استخباراتو ژېړو کتابونو د دې دونيا له ښه ژونده وېرولي يو، د دې دونيا ژوند راته دوزخ ښکاري.

تخييل کړلای شي، د دغې دونيا ژوند بېرته راته په جنت بدل کړي، ولو که د ځو شېبو لپاره هم وي.

د تخييل په مرسته جنتي ژوند ته د رسېدو غوښتنه کړلای شي تفکر او تعقل وګوماري ( استخدام يې کړي) چې هيلې او ځوبونه ريښتيا کړي.

نوربيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ